# پلاره !

## ته څوک يې؟

( مرکه )



گل حميد خان

ليکوال: شاه محمود کړوال



گل حميد خان په ۱۳۹۳ل کال کې

پښتي ډيزاين: فياض حميد



# پلاره !

# تــه څــوک يــې ؟

## ( مرکه )

ليکوال : شاه محمود کهوال

۱۳۹۳ ل

بسم الله الرحمن الرحیم

## کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم : پلاره ! ته څوک یې ؟

لیکوال : پوهنمل شاه محمود کډوال

خپرندوی : لیکوال

کمپوز : لیکوال

ډیزاین : لیکوال

چاپکال : ۱۳۹۳ ل

چاپشمېر : ۱۰۰۰ ټوکه

ډالۍ

سولې او سوکالۍ ته !

سریزه

د فرعون معالج داکتر سینوهه په خپل کتاب کې ، چې نږدې (۳۵۵۰ ق م) کې لیکل شوی لیکي : ای هغو راتلونکیو نسلونو چې زما کتاب لولئ ! بې له شکه ستاسو د ژوند وسایل به زموږ تر ژونده پرمختللي وي ، خو د بشر ناپوهي بدلون نه مومي . څه چې زه په دې کتاب کې لیکم ، هغه ستاسو په ژوند کې هم شته. زما په ژوند کې ډیر بتان شته ، چې خلک یې عبادت کوي ، د یوه بت پلویان ړیره پرېږدي او د بل بت پلویان ږیره خریي او بیا دواړه سره جګړه کوي او خپلو کې ډېرې وینې سره تویوي .

سینوهه رښتیا ویلي ، موږ له تېرو څلوېښتو کلونو راپدېخوا لاهم له دې حالت نه وتلي نه یو . خو په یوه توپیر او هغه دادی ، چې کله ږیره خرېیلي له واکه لرې شي ، بیا له ږیرې او تسبیحو پرته ژوند کولای نه شي او ږیرور چې کله واک ته ورسي ، دومره ږیره بوندۍ کړي ، چې پېژندل یې بایومیتریکو معایناتو ته اړتیا لري .

دا آثر یوه ساده مرکه نه ده ، چې لیکوال د خپل پلار سره ترسره کړې وي ، بلکې دا د دېرشو (۱۳۳۰- ۱۳٦۰ ش ) کلونو ژوندی تاریخ دی ، چې یو نسل یې بل نسل ته بیانوي ، یا په بل عبارت

د سولې نسل یې د جګړې نسل ته بیانوي چې دا نه یواځې یو مسوولیت دی ، بلکې رسالت هم دی . لکه چینایي فیلسوف کانفوسیوس ، چې وایي ، که چېرې مونږ خپلې تجربې راتلونکي نسل ته بیان نه کړو ، نو دا خواران مجبور دي ، چې تېروتنې بیا تکرار کړي .

په دې لیکنه کې هڅه شوې ، چې د یوه شخص د ژوند اړخونه د موجودو واقعیتونو په رڼا کې بیان شي ، چې دا د خپل ډول لومړنی آثر دی ، چې یو ځوان لیکوال یې د تاریخ لیکنې په برخه کې رامنځته  کوي . دا آثر په شلمه پېړۍ کې د یوه افغان د ژوند تیارې برخې بیانوي ، چې زموږ د پینځه زره کلن تاریخ  دعوه تر پوښتنې لاندې راولي ، د مثال په ډول هغه خلک ، چې په شلمه پېړۍ کې تر شپږمه زده کړې کوي او د لېسې لپاره دریشي نه لري ، چې په اغوستلو یې خپلو زده کړو ته ادامه ورکړي ، د هغو وړاندېنیو خلکو تاریخ به بیا څا لیکلی وي ؟

( پلاره ! ته څوک یې ؟ ) د ځوان استاد شاه محمود کډوال رساله ده ، چې یو پلار د خپل زوی څلور پوښتنې ځوابوي ، چې دا یواځې د شاه محمود کډوال پوښتنې نه دي ، چې له ښاغلي ګل حمید خان څخه یې کوي ، دا نړدې د ټولو افغانانو پوښتنې

دي ، چې هره ورځ يې يو زوی له خپل پلاره کوي ، خو دا يواځې ښاغلی کډوال دی ، چې دا موضوعات يې د کاغذ پرمخ ليکلي دي . ډېرځلي تاريخ په مړو ليکل شوی ، خو کډوال دا کار په ژونديو ترسره کړی دی .

د دې رسالې په يوه برخه کې لولو، چې ( خاد ) پخپله نظارت خونه کې د ګل حميدخان د تورنولو لپاره جعلي اثباتيه مدارک (د حزب اسلامي د تنظيم کارت) جوړوي ، چې دا د ډېر فکر ځای دی ، چې خدای (ج) خبر ، دې ډول مدارکو به څومره قربانيان درلودل ، چې يو يې زه يم ، چې پروني (خاد ) او نني (ملي امنيت) د جعلي اسنادو په اساس د اختطاف په جرم اته مياشتې بندي کړم .

زه له ټولو ځوانو ليکوالو غواړم ، چې د دې ډول نوښت لارويان شي ، د ځوان ليکوال د لا ډېرو نوښتونو په هيله .

درناوی

محمد اکبر ( شير )

د اريانا پوهنتون پخوانی استاد

## زه څوک یم ؟

پورتنۍ پوښتنه مې تل مخته مخته کېدله ، تر ډېره راسره ځواب شوې وه ، کله نا کله بیا بې ځوابه کېدله . زه په ډېرو مواردو کې له نورو جلا یم ، هغه چې هغوی کوي او وايي ، زه يې نه کوم او نه وایم . دا توپير که څه هم الله (ج) پیدا کړی ، خو په ځینو حالتونو کې د نورو ډېرو انسانانو او زما د ملګرو تګ او همانديي يو لور ته او زما بل لور ته ؛ حېرانوونکې وه . که څه هم په ټولو مواردو کې له نورو جلا نه وم ، خو په ډېرو کې مې جلا فکر درلود ، دې حالت زه له پلار سره یوولم . په دې هڅه کې شوم چې د خپل فکر او زړه خړبوونکي وینه بايد وپېژنم ، موخه مې ارثي او نورې لېږدوني وې ، چې له پلاره ماته راغلي وې . ما له خپل پلار سره ډېر وخت یوځای ژوند کړی او ښه يې پېژنم ،خو د ده د ژوند یو داسې پړاو وو ، چې ښه پرې پوه نه وم ، دا پړاو هغه وخت تېر شوی وو ، چې زه کوچنی وم ، په دې پړاو پوهېدل زما لپاره مهم وو.

پلار مې د دې کیسې (مرکې) پروخت څه د پاسه اویا کلن ، خو تکړه وو ، د ګړېدلو ځواک يې پیاوړی او زغم يې ډېر وو ، خو د دې کیسو بیا یادلو خوند نه ورکوه ، ما اړوېسته ، چې کیسه وکړي . د دې مرکې پر وخت مې پلار بغلان ته زموږ د پوښتنې لپاره راغلی وو ، دوه درې ورځې دلته وو ، بیا بیرته ننګرهار ته لاړ.

دا آثر يوه مخامخ مرکه ده . پلار مې د خپلو سترگو ليدلی حال او د هغه وخت چاپېريال انځورکړی .کېدای شي ځينې مالومات يې نيمگړي وي ، خو له دې ټولو غوره پايله ترلاسه کېدای شي. د مرکې ژبه هغه ده ، چې پلار مې کارولې ، خو زما لاسوهنه هم پکې روښانه ده. زه اړ وم ، ځينې جملې سمې کړم او ځينې کلمې پښتو کړم ، خو په مانيز اړخ کې مې لاسوهنه کړې نه ده . په دې مرکه کې ما ډېر څه د ځان لپاره پيدا کړل ، خو ډېر داسې څه هم پکې وو ، چې د ټولو لپاره پاموړ دي ، په ځانگړې توگه ختيځوالو ته . د دې مرکې ځينې برخې سړی خندوي ، خو دردوونکې برخې يې ډېرې دي او د تاريخ د يوه تياره پړاو کيسه ده .

درناوی

شاه محمود کډوال

لړم / ۱۳۹۲ ش

- پوښتنه : پلاره ! ته څوک يې ؟

ځواب : زه ګل حمید خان د عبدالحمید خان زوی ، پر ۱۳۲۰ لمریز کال د لغمان ولایت ، په کټل کې زېږېدلی یم . پلار مې دهقان وو ، وروسته یې د کمزورتیا له امله د دهقانۍ سپک کارونه کول . بیا یې په کلي کې دوې ژرندې په اجاره ونیولې په یوه کې خپله کنبېناسته او بلې ته یې ژرندګړی نیولی وو . پلار مې د محمدغوث زوی ، چې زما نیکه ( محمدغوث ) د نوې کلا له خانانو سره بوخت وو ، د محمد غوث پلار یا زما غورنیکه د غونډۍ له اوریاخیلو کټل ته کوچېدلی وو . د پلار له خوا اوریاخیل او د مور له خوا هزارمېښې پښتون افغان یم .

زه په کوچنیوالي کې د کلي له دوو وتلیو او شتمنو میرمنو (میاخیله بي بي او بې بي ادې) سره د دې لپاره مزدور وم ، چې یوخوا څه وګټم او بلخوا له دوی څه زده کړم ، دوی به ماته لوست کوه . میاخیله بي بي د کلي د یوه مخور مرزا صاحب میرمن او بي بي ادې هم د یوه مولوي صاحب میرمن وه .

نهه کلن وم ، چې د دیني زده کړو لپاره د عمرزیو د لنډاخیلو په جومات کې طالب یا د خلکو په ژبه چړي شوم . بیا د پړویي په جومات کې طالب شوم ، چې په هغه وخت کې یې امام مولوی

صاحب نجم الدين وو . له هغې وروسته په ۱۳۳۰ لمريز کال کې زموږ په کلي (کټيل) کې کليوال ( دهاتي ) ښوونځی جوړ شو په ۱۳۳۱ لمريز کال کې مې هلته په لومړي ټولگي کې زده کړې پيل کړې ، دې ښوونځي درې ټولگي درلودل ، يانې درې کلن وو ، د څلورم ټولگي زده کوونکي د قلعه السراج لومړني ښوونځي ته استول کېدل . ما په کليوال ښوونځي کې درې کلنې زده کړې پای ته ورسولې ، بيا راغلم د قلعه السراج لومړنی ښوونځی مې هم په ډېره مينه او ښه درجه پای ته ورسوه او له شپږم ټولگي فارغ شوم .

د لومړني ښوونځي يا له شپږم ټولگي څخه د فراغت وروسته بايد زه د نورو زده کړو لپاره د روښان لېسې ته تللی وای ، خو داسې ونه شول . د هغه وخت د قانون پر بنسټ ، د روښان لېسې هر زده کوونکی اړ وو ، چې دريشي واغوندي زما له پلار سره د دريشۍ پيسې نه وې ، له دې لامله له روښان لېسې پاتې شوم .

فکر کوم ۱۳۳۸ لمريز کال وو ، چې زموږ د يوه خپلوان مرزامحمدظفرخان په واسطه د ننگرهار د کرنې مديريت په چوکاټ کې ، د بڼوالۍ په درې کلن کورس کې د زده کړې په موخه داخل شوم . دا کورس مې هم ډېر په مينه ولوست او پای

ته مې ورساوه . په ۱۳۴۱ لمريز کال کې د ننګرهار ولايت د کرنې په مديريت کې د مامور په توګه په دنده وګمارل شوم ، چې د دندې ځای مې د ننګرهار شاهي بڼ وو .

يوکال وروسته کابل ته تبديل شوم او د کرنې وزارت ، د طبيعي سرچينو رياست ، د ځنګلونو په مديريت کې په دنده بوخت شوم. د ځنګلونو مديريت د پغمان د قوريې آمريت ته وروپېژندلم او هلته مې په چاپانۍ قوريه کې د هېواد خدمت کوه . د دندې په بهير کې مې په خوست او بغلان کې هم خدمتي دندې ترسره کړې دي .

په ۱۳۴۴ لمريز کال کې ، د قانون له مخې د عسکري خدمت لپاره د کندهار قول اردو پينځمې فرقې ، شلم غونډ ، لومړي کنډک ته وروپېژندل شوم ، يوکال وروسته د غونډ د خدمت په بلوک ، د لوژيستيک په مديريت کې کاتب شوم . که رښتيا ووايم د عسکرۍ په دوره کې شوخ وم ، له دې لامله ډېر وکړول شوم. له بده مرغه د عسکرۍ په دوره کې هم غريبۍ او ناوړه اقتصاد ځوروم ، دومره وس او پيسې راسره نه وې ، چې د رخصتيو پروخت کور ته راشم .

د عسکرۍ دورې تر پای ته رسېدو وروسته ، پر۱۳۴۷ لمريز کال د ننګرهار ولايت د کانال رياست کې په دنده وګمارل شوم لومړی په هډې فارم کې وم بيا غازي اباد فارم ته لاړم او هلته مې دنده ترسره کوله .

په ۱۳۵۰ لمريز کال کې مې واده وکړ ، په لومړي سر کې د جلال اباد ښار په ريګ شاه مردخان کې د خپلې کورنۍ سره اوسېدم  يو کال وروسته د غازي اباد فارم اړوند مېنې يا قصبې کې دولتي کور راکړل شو او هلته مېشت شوم . نږدې ۴۷ کاله مې د الله (ج) د رضا ، د هېوادوالو او هېواد لپاره د ونو او بڼونو خدمت وکړ او په ۱۳۸۹ لمريز کال کې له دندې تقاعد شوم .

- پوښتنه : د سياسي ادلون بدلون په اړه که راته وواياست؟

ځواب : زه په داسې وخت کې نړي ته راغلم ، چې د ظاهرشاه دوره وه ، په همدې دوره کې ځوان او د دولت مامور شوم ، د ظاهر شاه دوره داسې وه چې ښه امنيت وو ، تيری او ښکاره ظلم نه وو ، خو اقتصادي ستونزې ډېرې وې ، خلکو درې وخته ډوډۍ موندلی نه شو ، د صنعت څرکونه ښکاره شوي وو کوچنۍ فابرېکې جوړې شوي وې ، د ظاهرشاه په دوره کې هر ډول رسمي بدلونونه ډېر په ارامه ترسره کېدل ، دولت پياوړی او په ټولو برخو واکمن وو . سياسي غورځنگونو خپل کار کوه چې فکر کوم په څلوېښتمو کلونو کې يې ځان په رسمي توگه ښکاره کړ .

کله ، چې داودخان په ۱۳۵۲ لمريز کال ، د چنگاښ په ۲٦ مه سوله ييزه کودتا وکړه او جمهور ريس شو ، په دې وخت کې د داودخان د ډلې (ملي انقلاب ) له لوري نيوني پيل شوې او خلک ورکېدل . داودخان د هېواد د ودانولو لپاره ډېر پلانونه جوړکړل ، خو ټول د کاغذ پرمخ پاتې شول ، د ظاهرشاه د دورې په پرتله ډېر لږ اقتصادي بدلون او لوړتيا د ولس په ژوند کې

وليدل شوه ، نور هماغه حالت وو . داودخان که څه هم جمهور ريس وو ، خو ډېر ديکتاتور انسان وو ، دی د ننګرهار ولايت د غازي اباد فارم ته راغلی وو ، ما پخپله ورسره روغبړ کړی او لاس مې ورکړی دی . داودخان په پښتو پوهېده ، خو ويلای يې نه شوه ، د يادوړ خبره داده ، چې کله داودخان په غازي اباد فارم کې په ملي او دولتي تاسيساتو ګرځېده ، نو په هغه وخت کې په فارم کې موجود روسي سلاکاران خپلو دندو ته نه راتلل او نه يې غوښتل داودخان سره وګوري ، موږ ته يې ويل ، چې داودخان يو پوځي جنرال دی ، موږ ډارېږو چې څه راته ونه وايي .

د داودخان پروخت په (ملي انقلاب) کې ګډون جبري او حتمي وو ، که څوک به له دوی سره نه وو ، په مرګ او ربړونو به ګواښل کېدل او له هر ډول ملي امتيازونو د محرومېدو زيګنالونه ورکول کېدل .

په ۱۳۵۷ لمريز کال کې، چې کله کمونستي پوځي کودتا وشوه او نورمحمدترکی واکمن شو ، د پخوا په پرتله يو څه ازادي شوه ازادي په دې مانا چې يو هېوادوال کولی شول ، د خپل حق غوښتنه وکړي ، په رسمي بلنو او دعوتونو کې د شرابو کارونه

دود شوه ، دا کار د داودخان پروخت هم وو ، خو د ترکي پر وخت څه ناڅه رسمي شو ، ويل کېدل به چې يو شرابي يا په نشه ککړ انسان ته څوک سپک کتلی نه شي ، بد رد ورته ويلی نه شي ، د نشې پر وخت به يې روغتون ته رسوي . حالت يو څه پوځي شو ، وسلې ډېرې شوې ، د واکمن غورځنگ او نظام غړي په وسلو سمبال شول ، د (خلق) او (پرچم) د اختلاف له امله به چې کوم پرچمی له دندې گوښه کړای شو ، وسله به ترې اخېستل کېدله .

د داودخان د دورې يو شمېر مامورين له دندو گوښه کړای شول ( خلقيان او پرچميان ) په دندو وگمارل شول ، په دې وخت کې د مجاهدينو بريدونه هم ډېر او ښکاره شول ، په کونړ کې مولوي حسين د مجاهدينو پوځي مشر وو او بريدونه يې کول ، د دولت له لوري د ځاني دفاع ( دفاع خودي ) نيمه پوځي ځواک جوړ شو ، لومړی به په زور خلک دې ځواک ته نيول کېدل، خو وروسته يو څه ماديات ومنل شو ، هماغه وو چې د زور موضوع يو څه لږه شوه .

زما په ياد د نورمحمد ترکي دوره داسې وه ، چې مثبت ټکي پکې وو ، د خلکو حقوقو او بيت المال ته احترام کېده ، په غريبو

کارگرو ظلم او ستم پای ته ورسېد . په دولتي فارمونو کې داسې ډېر گارگر او مامورين وو ، چې له تاکل شوي حد يې ډير کار کوه ، د بېلگې په توگه د جمعې ورځې کار ، خو چا يې مزدوري يا حق الزحمه نه ورکوله ، د نورمحمد ترکي په دوره کې د دوی حق ورکول کېده . که څوک به د واکمن غورځنگ غړی نه وو ملي حق يې خوندي وو . د واکمن غورځنگ او نظام غړي چې زموږ چارواکي وو ، له خلکو سره يې ښه چلند کوو او د حق پلويان وو . دا هاغه څه وو چې زموږ په ژوند کې وو ، موږ ورسره مستقيم او مخامخ اړيکی درلود ، د نورمحمد ترکي پر وخت که به چېرته کوم ناوړه کار کېده ، نو اورېدل کېدل به چې (پرچميان ) دي ، پرچميان د قدرت او څوکۍ ډېر لېوال وو ، د ده پر وخت کرگري او بزگري خوځښتونو ته پام ډېر شو او د ځمکوالو او خانانو له ستم وژغورل شول.

کله چې حفيظ الله امين قدرت ته ورسېد ، په دولت او ټولنه کې کوم ځانگړی بدلون تر سترگو نه شو ، ځکه يو مازيگر وو هسې تېر شو ، رسمي او نارسمي حالت د پخوا په څېر وو ، خو د حفيظ الله امين په پرتله نورمحمد ترکی په خلکو گران وو .

پر ۱۳۵۸ لمريز کال کارمل او روسان په پوځي بڼه واکمن شول عام وګړي ډېر خپه وو ، ټول هېواد په وير اخته وو ، ځکه يو بشپړ پوځي نظام واکمن شو ، د روسانو راتګ په ولس ډېر درووند او ژور اغېز وکړ . د دينپالنې او ملتپالنې احساسات يې راوپارېدل ، کارمل هم په ټولنه کې ډېر سپک ښکارېده او چا ورته په ښه سترګه نه کتل ، چا به د شلمې پېړۍ شاه شجاع ( شاه شجاع قرن بيست ) چا د (ټوکرۍ قهرمان) باله ، چا به يې له نوم سره د (ښاغلي يا صاحب) کلمه نه ويله ، هغه چې پخوانيو ولسمشرانو ته کارېدله .

ورځ تر بلې د کارمل د سياسي ډلې (پرچم ) پرضد ولسي افکار بدېدل او خلکو ترې ډېره کرکه کوله ، ځکه ويل يې دوی د روسانو ګوډاګي دي ، د هغوی په زور واکمن شوي دي . د کارمل پر وخت دهشت او وحشت ډير شو. خلقيان ، اخوانيان شعله يان او ملتپال نيول کېدل او د نظام د دښمن په نوم وژل کېدل . په همدې وخت کې د نظام استخباراتي څانګه (خاد) ډېره فعاله او پراخه شوه . ولس او سياسي ډلو پورې ترلي وګړي تر ډېر سخت څار لاندې وو ، د مجاهدينو خوځښتونه تر پخوا

ډېر پیاوړي شول ، افغان ملي پوځ کمزوری او روسان پخپله له مجاهدینو سره په جګړه بوخت وو .

د کارمل پر وخت لوړې څوکۍ او مقامونه ، یواځې پرچمیانو ته ورکول کېدل او نور هېڅ وو . په ټیټو څوکیو کې نور وګړي ټاکل کېدای شول ، دا موضوع په پوځي او ملکي دواړو برخو کې دود وه ، کارملیانو په ټولنه کې اسلام او مسلمانانو ته په سپکه کتل خو له ډاره یې دا موضوع نه ښکاره کوله ، ځکه له ولس وېرېدل.

کله چې د (خاد) پخوانی مشر داکتر نجیب الله واکمن شو ، د پخوا په پرتله حالت ښه شو ، خو اوبه له ورخه تېرې وې، داکتر نجیب الله یو شمېر ښه کارونه وکړل ، چې د کارمل ناولې خېره له خلکو هېره کړي ؛ هغه د هېرېدو نه وه . کله چې داکتر نجیب الله ننګرهار ته په رسمي سفر راغلی وو ، د هډې فارم په زیتونو فابریکه کې یې له دولتي مامورینو او ولس سره غونډه درلوده ، د فابریکې یوه ښځینه کارکوونکې د کارکوونکو په استازۍ پورته شوه او د خپلو اقتصادي ستونزو نه یې سر وټاکوه داکترنجیب الله ته یې وویل ، چې په کابل کې دولتي کارکوونکو ته په کوپون کې خوراکي توکي په ارزانه بیه ورکول کیږي ، خو

موږ ته په ننگرهار کې يوائې (۱۲۰ ) افغانۍ راکوي مامورينو ته يوډول امتياز او کارگرو ته بل ډول امتياز ورکول کيږي . داکتر نجيب الله سمدستي خپل سکرتر ته وويل ، چې موضوع ياداشت کړي ، د همدې ورځې په شپه د وخت دولتي رسنۍ (راديوتلويزيون) اعلان وکړ ، چې د مامورينو او کارگرو ترمنځ په کوپوني امتيازونو کې هيڅ ډول توپير نه شته او ټولو دولتي کارکوونکو( ماموراو کارگر) ته به د ژوند لومړني اړتياوړ توکي (اوړه ، غوړي ، چاى ، بوره او سابون ) يوشان او وړيا ورکول کيږي . په دې توگه د کارکوونکو ستونزه ، ديوه شخص په وينا چټ پټ حل شوه او په دولتي کارکوونکو ، چې ډير غريب وو اختر جوړ شو .

داکتر نجيب الله له مخالفينو سره د سولې لړۍ پيل کړه ، پوځي چاپيريال يو څه ملکي شو ، ولس د پخوا په پرتله سوکاله او خوښ وو ، روسي يرغلگر ځواکونه وويستل شول ، تر دې چې له موږ سره په کرنيزو چارو کې بوخت روسي سلاکاران هم وويستل شول ، دوى د ظاهرشاه له واکمنۍ راهيسې دلته مېشت او په کار بوخت وو . داکتر نجيب الله په هېواد ، هېوادوالو او خپلواکۍ مين افغان وو ، د داکتر نجيب الله پر وخت په دولتي

ادارو کې د کارملي او افراطي پرچميانو ارزښت لږ شو ، هغه چاته ارزښت ورکول کېده ، چې ملي ګڼو ته به ژمن وو ، فکر کوم د داکتر نجيب الله واکمني ډېره نږدې تېره شوې ډېر سپيناوي ته اړتيا نه لري ، خلک پرې ښه پوهېږي .

په اويايمو کلونو کې د داکتر نجيب الله د واکمنۍ ړنګېدل او د مجاهدينو واکمنېدل ، د هېواد د فرهنګي ، اقتصادي ، سياسي او پوځي بنسټونو د ويجاړونې لوړتيا يا اوج وو ، زه چې د ظاهرشاه پروخت سرتيرى وم ، ماته د افغان ملي پوځ ځواک ښه څرګند وو ، په وروستيو کې په نويو پوځي وسېلو د پوځ سمبالولو او د کادرونو روزلو ، افغان ملي پوځ ښه ځواکمن کړی وو . د دولتي ملکي کارکوونکي په توګه راته د ملکي برخې چارې او ځواک هم ښه څرګند وو ، هر څه له منځه لاړل ، ملي پانګه مو په ګاونډيانو وپلورل شوه .

طالبان چې کله واکمن شول ، نو حالت څه ښه او سخت شو. له مجاهدينو سره يې توپير دا وو ، چې يو نظام يې درلود ، څه ناڅه د ولس پوښتنه کېدله، خو طالبانو ته ډېر په ګټه وو . د مجاهدينو په څېر ، په هره کوڅه کې دولت نه وو ، يو نظام او يو پرېکنده مشر ( ملاعمر ) يې درلود . فزيکي امنيت د پخوا په پرتله ډېر

ښه شو ، خو بيا هم ، يو بشپړ ملي او ولسي نظام نه وو ، له ځانه پرته يې بل څوک نه خوښېدل ، مسلکي کادرونه له دندو گوښه کېدل او پرځای يې طالب گمارل کېده . ښووني او روزنې ته ورځ تر بلې پاملرنه کمېدله او پوځي چارو ته ډېر پام کېده او نور چې دا هم ژوندی تاريخ دی خلک پرې پوهېږي .

دا اوسنی د ښاغلي کرزي دولت ، خو پرېږده ، پخپله د ده په اړه وايم ، چې کرزی مارماهي دی . مارماهي د دې لپاره چې ماران راخپل کړي ، سر ورښکاره کوي ، ځکه سر يې د مار په څېر دی او د کبانو يا ماهيانو د راخپلونې لپاره ، هغوی ته لکۍ ښکاره کوي ، ځکه لکۍ يې د ماهي په څېر ده. ښاغلی کرزی هېڅ نه مالومېږي ، چې څه شی دی ، نه له ملت سره دی نه له نظام سره ، بس د شکاڼه مرداری دی ، نه خس دي نه سره کرزی ښه ملتپال سياستوال نه دی .

- پوښتنه : ایا تاسې د کوم سیاسي غورځنګ غړي واست او یاست ؟

ځواب : له بده مرغه په هېواد کې مې ، تر دې وخته داسې کوم سیاسي بهیر ونه لید ، چې د زړه له کومې له هغه سره موافق اوسم.د سیاسي غورځنګونو تګلارې راته ډېرې تنګې ښکارېدلې او زه د یوه ازاد مزاج خاوند وم ، نه مې غوښتل خپله خپلواکي محدوده کړم . د ظاهرشاه پروخت چې کله سیاسي ډلې جوړې شوې ؛ زور نه وو ، څه ناڅه ولسواکي وه . سیاسي غورځنګونو ته تګ او نتوتل اختیاري وو ، غورځنګونو خپل کار په دیموکراتیکو اصولو برابر مخته وړه ، خلک يې په زور او جبر سره جزبولای نه شول . ډېرې بلنې راکړل شوې ، خو ناپيلتوب مې خوندي کړ ، د داودخان پروخت د ( ملي انقلاب ) غړو هم ډېرې هڅې وکړې ، چې ما خپل کړي ، تر دې چې و يې ګواښلم ، چې له دندې به ګوښه او سنګسار شې ، خو بیا مې هم خپل دریځ وساته . وروسته کمونستان راغلل ، هغوی هم خپل ټول زورونه راباندې ووهل ، خو کوم سیاسي غورځنګ ته لاړ نه شوم . یادوړ داده ، چې ژوند مې ټول داسې ځایونو کې کړی چې هلته نظام وو ، ځکه نو د هغو سیاسي ډلو تر فشار لاندې

راتلم ، چې په واک یا نظام کې وو ، د جهادي او نورو مخالفو سیاسي یا پوځي ډلو نه لرې وم .

مجاهدین چې کله واکمن شول ، د نورو خلکو اړتیا ورته نه وه ځکه هغه د سنگر ملگري هم پرې ډېر شوي وو . طالبانو هم پوځیانو او سرتېرو ته اړتیا لرله ، چې دا کار له ما نه کېده ، له دې لامله ناپېیلی پاتې شوم . د دې ټولو سره سره په بېلابېلو وختونو کې د شعله یي ، خلقي ، اشرار ، حزب اسلامي او کمونست (بقایا ) په سیاسي نومونو ځورول شوی او کړېدلی یم ، په وروستیو کې د (نامطلوب ) تر نوم لاندې له دندې گوښه کړای شوم . بیاهم کرزي ته دې خدای (ج) خیر ورکړي ، چې ده راته کوم فردي بد رسولي نه دي .

- پوښتنه : که د بندي کېدو کيسه مو راته وکړئ ، ولې او څنگه بندي شوئ ؟

ځواب : وړاندې مې وويل ، چې زه په ټولو واکمنيو کې ناپېيلی افغان وم او له سياسي غورځنگونو سره مې اړيکی نه درلود خو ملگري او دوستان مې په هره ډله کې وو . د کارمل وخت وو ، د ننگرهارولايت د کانال په پروژه او رياست باندې د (پرچم) کمونستي ډله واکمنه وه ، ډېر لږ خلقيان هم په دندو کې وو، خو ټول د مخالف ( مجاهدين او نورو ) پروړاندې يو وو ، يواځې له ولس سره په چلند کې يې توپير وو ، هغه هم کله ناکله په وگړو پورې تړل کېده په دې مانا ، چې په ټولنيزو چارو کې ، د يوې ډلې د دوو غړو ترمنځ ډېر توپير ليدل کېده .

محمد آصف همکار د لغمان ولايت ، د نيازيو سېمې د کوټاخيلو اوسېدونکی د پرچم له کمونستي اړخ څخه وو ، دی د غازي اباد فارم آمر وو ، خو خپلې گېډې ته ډېر وفادار، غل او مغرور انسان وو ، د دې ترځنک ډېرظالم هم وو . همکار په دې نوم خپل ځان پر خلکو تپلی وو ، چې گواکې ميرمن يې د داکتر خدايداد بشرمل خور ده ، د بشرمل تر نوم لاندې يې غلا کوله خو دروغ يې ويل . داکتر خدايداد بشرمل د لغمان ولايت د

چهاردهي اوسېدونکی ، له سياسي اړخه پرچمی ، په لومړي  سر کې د ننګرهار ولايت د ولايتي کميټې منشي ، بيا وروسته د زون لوی رييس وو ، پوه او ولسپال انسان وو .

هغه وخت چې زه د غازي اباد په فارم کې د پلان مدير وم ، زما او د آمر (محمد آصف همکار) ترمنځ اړيکي ښه نه وو ، لامل يې داوو چې همکار غوښتل زه هم د ځينو مامورينو په څېر ، ده ته غوړمالي وکړم ، خو دا رانه نه کېده . زما او د ده ترمنځ بد اړېکي هغه وخت په شخړه واوښتې ، چې زما ورور يې له کاره ګوښه کړ .

زما ورور ( سيدحبيب ) د غازي اباد فارم آمريت ، د تخنيک مديريت اړوند د ساتنې (حفاظې ) ماشينکار يا تراکتور چلوونکی وو ، دی په ناقانوني توګه د همکار له لوري له کاره ګوښه کړای شوی وو . زه او ورور مې په همکار پسې ورغلو چې د دې خبرې پوښتنه وکړو ، خبرې ترخې او خړې پړې شوې همکار زما زنې ته لاس راوړ او ټيله يې کړم ، ما هم له ستوني ونيو او شاته دېوال سره مې دوه ، درې جټکې ورکړې په دې سره همکار خپلو ساتونکيو ( مليشه وو) ته غږ کړ ، چې ( هله راشئ ! پرما بريد دی ) .

د مليشه وو مشر غلام نبي د غلام محی الدين زوی ، چې دی هم د لغمان ولايت د نيازيو سيمې ، د کوټاخيلو اوسېدونکی وو ، له خپلې ډلې سره راغی او مور دوه ورونه يې ښه ووهلو . محمدآصف همکار خپل ډېر کليوال د خپل آمريت په ملکي او نيمه پوځي څوکيو کې ځای پرځای کړي وو او له هغوی يې شخصي گټه اخيستله . د دې پيښې نه وروسته مور د ښې کوټ علاقه داری ته وپوړل شو ، هلته ښاغلی(هوتک) علاقه دار وو له مور يې پوښتنې پيل کړې .

هوتک هم له (پرچم) اړخ څخه وو ، علاقه دار مور ته وويل چې پر تاسې همکار عريضه کړې ، چې دوی اخوانيان دي او پرما يې بريد کړی دی .

مور خپله کيسه په رښتينې توگه علاقه دار ته تېره کړه ، هغه راته سپينه پاڼه راکړه او راته يې وويل ، چې په دې ډول يوه عريضه ته هم وليکه ، د دې ترڅنگ يې داهم راته وويل ، چې د داسې حزبي ښځه ... ځئ لاړشئ ! خپل کار کوئ . رښتيا چې دا (هوتک ) ميړه او نر سړی وو.

زما او د همکار ترمنځ تربگني مړه نه شوه ، لا ژوندۍ وه . ما وړاندې وويل چې زما دنده د غازي اباد فارم د پلان مديريت

وو. یو وخت داسې راغی ، چې موږ د خپلو عوایدو حساب کوه په دې بهیر کې دولس ټنه غنم له عمومي شمېر نه کم شول ، دا هغه غنم وو ، چې همکار پټ کړي وو. همکار یو شمېر کرنیزې دولتي ځمکې هم له رسمیاتو او اسنادو پټې کړلې وې . د دې لپاره چې همکار خپله غلا پټه کړي ، په آمریت کې موجودو اسنادو کې یې لاس وهلی وو او د ځان په ګټه یې جوړ کړي وو غوښتل یې دا اسناد پر ما لاسلیک کړي ، ځکه زما لاسلیک ته یې اړتیا لرله . ما ترې انکار وکړ ، ورته مې وویل ، چې زه ستا د غلا ځواب ورکولای نه شم ، ده ویل ، چې په لغمان ولایت کې د ښاغلي بشرمل په ځمکو طبیعي آفت راغلی وو ، لږ شوي غنم مې هغه ته ورکړي دي . دا خبره هم دروغ وه . د کانال رییس انجینر عبدالرحیم رحیمي چې د لغمان ولایت ، د علي خیلو استوګن وو ، روسي مشاور او د کرنې مدیر ، ټولو راته وویل چې اسناد لاسلیک کړم ، خو دا کار مې ونه کړ ، دې موضوع همکار ډېر وکړاوه . کله چې ښاغلی بشرمل له دې موضوع خبر شو ، چې په نوم یې همکار غنم پټ کړي ، روسی مشاور هم پرې خبر دی او مخه یې نیولې نه ده ، سمدستي یې روسي مشاور له هغه ځایه وشاړه .

په یوه بله پېښه کې ، چې ما او همکار سره مخامخ شو او دی ډېر وکړېده داسې وه :
داکتر گل الرحمن ، چې د مرکزي کميټې غړی او د غني خيلو د لويې ولسوالۍ د حزبي کمېټې منشی ، له خلقي اړخ څخه، زما ملگری وو . شپه يې په غازي اباد فارم کې د لومړني سازمان له منشي شيرمحمد سره وه . ماته يې وويل ، چې ما سره موټر نه شته ، موټر راوليږه ، چې بټې کوټ علاقه دارۍ ته ځم . ما خپل چلوونکی له ځان سره واخېست . داکتر گل الرحمن مو راپورته کړ او د بټې کوټ علاقه دارۍ پر لور وخوځېدو . کله چې د غازي فارم دروازې ته ورسېدو د مليشې له مړو او ټپيانو سره مخ شو . په سپين خوړ کې ، د مجاهدينو سيمه ييز پوځي مشر(ملاکندهار) د پوليسو او ملېشې دوه ټاکونه ويشتي وو ، دا ملېشه به له روسانو مخکې تلله . داکتر گل الرحمن په پېښه د پوهېدو سره سم ماته وويل ، چې ما ژر علاقه دارۍ ته ورسوئ چې ځواکونه راوغواړم . دی مې هلته ورسوه ، ټېلېفون يې وکړ روسي پوځيان پر لسو زغروالو ټانکونو سپاره راورسېدل . زه هسې په انډېوالۍ کې په جگړه کنبېوتم ، خو چاره نه وه . روسي پوځيان مخکې موږ ورپسې روان وو ، چلوونکی مو ډېر

ویرېده . کله چې د یرغل او جګړې سیمې ته ورسېدو ، په لسګونو شخصي باروړونکې لارۍ ، د مخالفو وسلوالو له خوا له واټه ګرځول شوې وې ، ویل کېدل چې مالونه او پیسې یې ترې اخېستلې ، دا کار ورته ستونزمن شوی وو ، له دې لامله یې د لاریو چلوونکي او کلینران له ځان سره وړل . په همدې وخت کې موږ ور ورسېدو . امین الله صدیقي د کانال ریاست فني مرستیال چې له (پرچم) اړخ څخه وو ، امر یې وکړ ، چې دزې پیل کړئ ! د روسي ځواکونو قوماندان وویل ، چې دا خو ملکي او ولسي وګړي دي ، دوی ولې وولو ؟ صدیقي وویل ، دا ملکي او ولسي وګړي نه ، بلکې اشرار دي . روسي پوځیان اړ وو ، د صدیقي د امر سره سم دزې پیل کړي ، اور بل او دزې پیل شوې . یوه شېبه وروسته خلکو د ټانکونو لور ته رامنډې کړې او چیغې یې وهلې ، چې د خدای (ج) لپاره استاد (چلوونکی ) مې مړ شو ، کلینر مې مړ شو ، ماما مې مړ شو ، پلار مې مړ شو زوی مې مړ شو ، پلانی مړ شو او ... په دې وخت کې دولتي سرتیري ( ملېشه ) د خار لپاره وړاندې لاړل چې د مخالفینو وسلې او نور راوړي . بیا جګړه ونښته او د ملېشې یو سرتېری برسیرن ټپي شو . ویل کېدل ، چې د مخالفینو پوځي قوماندان

(ملاکندهار) جګړې ته يو شمېر ولسي کليوال هم په زور راوستي وو ، چې يو څو يې د ملېشې له لوري ژوندي ونيول شول .

د يوه تن ملېشه سرتيري د ټېپي کېدو له لامله ، محمد آصف همکار د غازي اباد فارم آمر او د کانال رياست فني مرستيال امين الله صديقي پرېکړه وکړه ، چې درې تنه دې له نيول شويو ولسي وګړو اعدام کړای شي . ګل الرحمن په دې وخت کې ګوښه او لرې ولاړ وو ، کله چې اعدامول پيل شول ، يو تن زما شاته پټ شو ، نه پوهېږم ما کې يې څه ليدلي وو ؟ خو د الله (ج) کارونه دي . محکوم ولسي وګړي ، ډېر په معصوميت ، له ما غوښتنه وکړه ، چې ويې ژغورم ، ما ورته سپينې سپينې کتل، خو هېڅ مې کولای نه شو ، ځکه زه کوم چارواکی او حزبي غړی نه وم ، چې امر يا غوښتنه مې ومنل شي ، ملېشه راغله ، دی يې وېوره او وېواژه . دويم هم وويشتل شو ، د ده ساه اوږده وه ، د ساه وتلو پروخت ډېر شتېده ، جبار چرسي ، چې د محمد آصف همکار ورور وو ، راغی او د دې سړي په مرۍ يې خوله ولګوله په همدې وخت کې غلام نبي چې دی هم د همکار او جبار اوښی وو راغی او د جبار تر خولې لاندې ولسي وګړی يې دوه

ډزه په زړه کې وویشت او شهید شو . دربېیم چې یو کوچنی وو راغی او زما له دواړو پښو یې لاسونه راتاو کړه ، چې ما وژغوره ما فکر کوه چې ګواکې زما زوی (فرهاد) له ما غواړي ، چې ژوند یې وژغورم ، په سترګو کې مې اوښکې په خوځښت راغلې احساسات مې وخوټېدل ، له خپل زوی سره مې ژمنه وکړه ، چې یا به سر دربانديې بږدم یا به دې ژغورم . دې کوچني ویل ، چې زه (ملاکندهار) د دې لپاره راوستی یم چې پلار مې په یوه موضوع کې د یوه ملېشه سرتیري ضمانت کړی وو . دی په دې غوسه وو ، چې پلار مې ولې د ملېشه ضمانت کړی ، د هغې په بدل کې یې زه جګړې ته راوستی یم .

زه چې ظاهراً د چارواکو په څېر ښکارېدم او د دوی په ډله کې وم ، ماته ګوډه روسي ژبه مې هم زده وه ، روسي قوماندان ته مې اشاره وکړه ، چې د ده غم وخوره ، ورته مې وویل ، چې دا خو ماشوم دی ، دی څه کولی شي ؟

روسی قوماندان فکر وکړ ، چې زه هم کوم چارواکی یم ،خو دی هم ښه سړی وو ، الله (ج) د دې کوچني د ژغورنې لامل کړ ، دی راغی ، ماشوم یې ټانک ته پورته کړ او وېویل چې موږ له ده څېړنې کوو . دا یوه پلمه وه ، زه خبر شوم چې کوچنی یې

وروسته پرې اینښی وو ، ما هم همدا غوښتل ، چې روسانو وکړل. په دې بهیر کې د روسي پوځیانو مشر ډېر په غوسه شو چې دا ډول ظلم موږ ته د منلو نه دی ، موږ بې گناه ولسي وگړي نه وژنو ، ده ویل :

تاسو دیموکراتان نه ، بلکې قاتلین یاست .

روسي قوماندان په غوسه کې خپلو ځواکونو ته امر وکړ ، چې د جگړې له ډگره شاته او بېرته خپل مرکز ته ستانه شئ ! په دې سره صدیقي ، همکار او ډله یې ژر ژر له سیمې وتښتېدل ، چې (ملا کندهار) پرې بیا برید ونه کړي ، موږ هم راغلو . په دې ځای کې مې هم د همکار په نښه کې تېشه ووهله او کوچنی مې ترې وژغوره ، هغه چې وژل یې دده غوښتنه وه ، په دې سره یې ماته دامونه لا ډېر کړل .

یوه ورځ دوه بجې وې چې له دندې تازه کورته راغلم ، لور مې راغله چې اغاجانه ! په دروازه کې دې څوک غواړي ، ووتم گورم چې داکتر تاج محمد د کونړ ولایت اوسېدونکی او د خاد غړی ، چې ما له وړاندې څه ناخه پېژانده له موټر(جیپ ) سره ولاړ دی ، راته یې وویل ، د والله جان ( زموږ گډ ملگری وو ) کوټې ته ځو او چای هلته څښو . ما ورته وویل ، کورته ځم

بوټان او پتهو رااخلم ، ده راته وويل ، چې کورته د تګ اجازه نه شته ، پوه شوم چې خبره خرابه ده او محمد آصف همکار راته کوم کار کتلی . د هيلې او وينا پر خلاف زه غني خېلو ته وېوړل شوم . دلته د خاد مديريت وو ، رانه يې لومړني مالومات واخېستل ، حيرانوونکې خو داوه ، چې دا د (خاد) ډېر غړي ما پېژندل او دوی زه پېژندلم ، ټول د واکمن نظام مامورين وو او په يوه ځای کې مو خپله دنده پرمخ وړله . کله چې مې ځان د يوه بندي په توګه وروپېژاند ، يوه تن چې زما مالومات يې ليکل او زه يې ښه نه پېژندلم ، راته وويل چې موږ فکر وکړ ، چې له مرکزه کوم پلاوی راغلی دی . زه يو پوخ ځوان وم ، ډېره مې خرپيله او غټ برېتونه مې لرل . د غني خېلو په مديريت کې مې درې ورځې تېرې کړې ، ډېر کړاو مې ونه ليد .

درې ورځې وروسته جلال اباد ښار ته رارون کړای شوم ، په لاره کې ټولو مېشتو امنيتي ځواکونو ته ويل شوي وو ، چې ډېر غټ اشرار ښار ته وړل کېږي ، د دې قوماندان د ازادولو لپاره اشرار هر ډول بريدکولای شي ، نو د احتمالي بريدونو لپاره امنيت ټينګ کړئ ! د مارکو بازار ته چې راورسېدو ملېشو امنيتي کمين نيولی وو ، د ملېشو مشر ، چې ما پېژانده ، موټر ته

راپورته شو او پوښتنه يې وکړه ، چې هغه د اشرارو غټ قوماندان څوک دی ؟ ما ورته وخندل ، چې هغه زه يم ! د ملېشې مشر په موسکا کې وويل ، چې دا خو د اوبونې (ابيارۍ) مدير صاحب دی ! زه په دې وخت کې د غازي اباد فارم د اوبونې يا اوبخور مدير وم .

له مارکو ، چې راروان شو ، بټې کوټ ته راورسېدو ، دلته هم ملېشه سرتيري جګړې ته چمتو ولاړ وو . د دې ملېشه سرتيرو نه هم ډېر يې زما کارګران وو ، دوی له ما پوښتنه وکړه ، چې مدير صاحب ته چېرته ځې ؟  ما ورته وويل ، چې هغه د اشرارو قوماندان ، چې تاسو ورته  ولاړ يې ، زه يم  ! دلته د (خاد) غړي دوه ورونه ،  زما ډېر نږدې دوستان ، چې په مخکې مې کوچني رالوی شوي او ډېرې ميده پيسې مې هم ورکړې وې او ماته يې (کاکا ) وايه ، قسيم او وسيم هم ولاړ وو ، د دې ترخنګ بل د (خاد) غړی ، الف نور  هم  ولاړ وو . دې ټولو زه ډېر له نږدې پېژندلم  ، خو پخوا تر قوماندانۍ ، اوس چې قوماندان وم نه يې پېژندلم . په دې ځای کې دا خبر هم  راکړل شو ، چې په روسي پوځونو کې ستا هغه مسلمان ، تاجکستانی ژباړن ملګری هم ووژل شو ، غم مې دوه برابره شو . له بټې کوټ علاقه دارۍ  د

جلال اباد ښار پرلور وخوځېدو ، په ښار کې پروت د (خاد) د اطرافو لوی مدیریت ته وبوړل شوم ، چې د پوهنتون روغتون او سپین غر هوټل شاته سیمه ، د بهسودو سیند ته نږدې پروت وو د دې مدیریت مشر مې هم انډیوال وو ، مسري خان نومېده ، د بټي کوټ اوسېدونکی وو ، چې وړاندې د غازي اباد په فارم کې مورږ سره کارګر وو . ښه ډېر انډیوالان او ملګري مې لرل ، خو لږ یې میړني او نور یې ډېر بې ننګه وو . بیا د څېړنې او تحقیق مدیریت ته وروپېژندل شوم او څېړنې پیل شوې .

زما نېکمرغي په دې کې وه ، چې وړاندې مې د غازي اباد فارم د آمر محمدآصف همکار د کارونو په اړه ، د ولایتي کمیټې مرستیال (سرلوڅ) د عدل او دفاع مدیر (داکترګل محمد مومند) او د کنترول او نظارت مدیر ( متین بټي کوټی ) پوهولي وو ، په دوی کې لومړني دوه پرچمیان او وروستی یې خلقي وو ، درې واړه ښه اصولي خلک وو .

د څېړنو مدیریت ، چې څېړنې پیل کړې ، ما ورته یادونه وکړه چې وړاندې مې رسمي او اړوندو سرچینو ته مالومات ورکړي هغه راوغواړئ ، هغه یې راوغوښتل . څېړونکي ( مستنطقان) یو امان نومېده او یو بل کابلی وو چې اوس یې نوم نه راځي .

په لومړي سر کې ( کوټه کولپۍ ) ته وروپېژندل شوم ، چې ډېر ځورونکی ځای وو . یوه توره کوټه وه ، کړکۍ څه ، چې د رڼا هېڅ څرک په کې نه وو . برېښنا پکې وه ، خو چې کله به لاړله نو فکر به مې کوو ، چې ړوند یم. شپه او ورځ به مې په دهلېزونو کې د خلکو له خوځېدو او تګ راتګ څخه مالوموله . ډوډۍ یې هم کوټې ته راوړله . ژمی او ساړه وو ، د ځان ګرمولو لپاره هېڅ نه وو ، سخت او یخ سیمیټي فرش او یوه خنبته وه چې له هغې مې د بالښت کار اخیست . پټو به مې نیم لاندې او نیم باندې کړ او ویده به شوم . درې وخته ( سهار ، غرمه او مازیګر ) به راوېستل کېدم ، لمونځ او اودس به مې وکړ او بیا به یې ننوېستلم .

درې وخته ، چې بهر وېستل کېدم ، نو همدا د معذرت وخت هم وو ، د معذرت لپاره به په کتار کې ودرېدو ، یو بل سره د ګړېدو اجازه نه وه ، له درې وخته پرته که به مو په کوټه کولپۍ کې د معذرت ستونزه پیداکوله ، حل یې ستونزمن وو . زه د ناروغۍ له کبله د خالي معذرت له ستونزې سره مخ وم، هېڅ چاره نه وه ، په یوه کوزه کې به مې خپله ستونزه حلوله او درې

وخته مې له ځان سره وېستله ، بهر به مې پاکوله او بيا به مې راوړله .

پينځه لس ورځې وروسته، څارخونې (نظارت خانې) ته واستول شوم ، دلته پينځه کوټې وې ، چې سياسي بنديان پکې ساتل کېدل . زه يې هم يوې ته وروپېژندلم . په دې کوټه کې ټول اته تنه اوسېدو . زه ، رحمت الله رحمت(خلقي) انورجان (افغان ملتی) سخي پاچا ، تورپاچا او انجينر معشوق چې دا وروستي درې تنه د (خاد) غړي او زموږ د ځار په موخه زموږ په کوټه کې ګمارل شوي او له موږ سره يوځای د بنديانو په څېر پراته وو . د نورو نومونه مې هېر دي . په دې کوټه کې د ژوند پرمهال له يو شمېر پېښو سره مخ شو، چې د يادلو وړ دي :

يوه شپه په بهسودو ولسوالۍ کې د ډېک زلمي په مشرۍ د مجاهدينو په يوه ډله دولتي ځواکونو بريد کړی وو او يو ځوان مجاهد يې ترې نيولی وو . دی يې زموږ کوټې ته راووست ، په ژمي کې يې د اوړي جامې پر تن ، هغه هم څيرې څيرې او ټپي وو ، ما خپلې جامې ورکړې . درې ورځې وروسته وېوړل شو ، ويل کېده ، چې محبس ته يې وړي ، خو چې چېرته لاړ الله (ج) پوهېږي .

په يوه بله پېښه کې ، يو ځوان چې دريشي يې پر تن وه ، زموږ کوټې ته راوړل شو ، ما وغږوه چې ولې يې نيولی يې ؟ ده وويل چې ګرم نه يم ، خو اعدامېږم .

په دې ډول په يوه بله پېښه کې ، څېړونکی ( مستنطق ) زموږ کوټې ته له دوو کوچنيانو سره راننووت ، دا دواړه کوچنيان ورونه وو ، يو يې (شير ) نومېده چې نږدې اته کلن به وو ، هغه بل به د لسو کلونو په شاوخوا کې وو ، پلار يې ما لږ لږ پېژانده ګومان کوم (ګلالی) نومېده ، چې په ثمرخېلو کې چلوونکی وو. دوی مخالفو ډلو ته د درمل وړلو په تور ګرم شوي وو ، له دوی څخه مشر وېوړل شو ، د کوچني له سترګو غټې غټې اوښکې توېدلې او ډېر سخت يې ژړل . د دې کوچني معصوميت زه هم ژړولم ، خو له اوښکو تويولو او ژړا پرته مې نورڅه په واک کې نه وو .

په يوه بله پېښه کې ، هغه وخت چې درې تنه روسي پوځيان ، د ننګرهار له هوايي ډګره ورک شوي وو ، پينځه تنه هېوادوال په دې موضوع کې نيول شوي وو او دا يې هم زموږ کوټې ته راوستل ، دوی د ګل جان کلا ( قلعه ګل جان ) اوسېدونکي حاجي رحيم شاه ، د ده درې زامن ، غوث الدين ، حاجي امين

او بل وو ، همدارنگه د غوث الدین زوی او د حاجی رحیم شاه لمسی هم په دې ډله کې وو .

د پورتنیو پېښو تر څنگ زما خپله کیسه هم روانه وه ، څېړنې او پوښتنې رانه کېدلې ، ورځ تر بلې حالت ترېنگلی کېده ، یوه ورځ څېړونکو وویل ، چې دی ربښتیا نه وایی او اقرار نه کوي ، په تناسلي الې پورې یې له اوبو ډکه کوزه وتړئ ، چې اقرار وکړي ما سخت مقاومت وکړ او سخت ځواب مې ورکړ چې د کوم جرم اقرار وکړم ؟ په هر صورت بریالي نه شول . بل ځل یې استعلام راکړ ، چې د کوم سیاسي غورځنگ غړی یې او له مخالفینو سره څه اړیکی لرې ؟ ما ورته ولیکل ، چې د هېڅ کوم سیاسي غورځنگ غړی نه یم او له مخالفینو سره هم کوم اړیکی نه لرم . بیا یې راته ولیکل ، چې که له کوم مخالف سیاسي غورځنگ سره دې اړیکی یا غړیتوب ثابت شو ، جزا به دې څه وي ؟ ما ورته ولیکل ، اعدام .

دوه ورځې وروسته بیا د څېړونکو دفتر ته د څېړنې لپاره وغوښتل شوم ، یوه پېژندپاڼه (کارت) په میز پرته وه ، ماته یې وویل ، چې تا خو ویل ، چې زه د کومې سیاسي ډلې غړی نه یم دا پېژندپاڼه د چا ده ؟ دا پېژندپاڼه د حزب اسلامي اړوند او زما

په نوم جوړه شوې وه . ما ورته وویل ، چې دا پاڼه کوردینال (نشان انگشت) ته واستوئ ، چې مالومه شي د چا ده ؟ دوی غوښتل ، چې زه پاڼې ته گوتې وروړم ، چې نښه یې پرې راشي خو زه یوه وم او دا کار مې ونه کړ . په پېژندپاڼه یا کارت کې زما دنده د اوبونې مدیر کښل شوې وه ، زه موسکی شوم او دوی نه مې وپوښتل ، چې دا د مخالفینو د ... باغ چېرته دی ، چې زه دې هلته د اوبونې مدیر اوسم ؟ په دې کارت کې باید زما دنده راکټ چي ، پیکاچي او نورې پوځي دندې وای نه دا . په دې سره یوه څېړونکي کارت واخېست او بل ته یې وروغورځاوه چې کوټه اوجعلي دی . د کارت لیک چې مې ولید ، د غني خیلو د خاد مدیر(سیداعظم) لیکلی وو، یوه شوم چې د محمدآصف همکار او د هغه د خادي همکارانو کار دی .

له ډېرو کړاوونو وروسته ، مې براعت ترلاسه او خوشې شوم . څو ورځې وروسته ، د دندې اخېستلو لپاره ، د داکتر خدایداد بشرمل دفتر ته ورغلم او خپله عریضه مې ورکړه ، بشرمل تر روغبړ او هرکلي وروسته ، پوښتنه وکړه چې ستا د نېونې پر وخت دې کور وپلټل شو ؟ ته وپلټل شوې ؟ ماورته ځواب کې وویل ، نه . بیا یې وویل ، د څېړنو په بهیر کې کوم سند درباندې

جوت شو؟ ما وویل ، وو د حزب اسلامي یوه کوټه پېژندپاڼه .
داکتربشرمل په حېرانتیا سره بیا وپوښتل ، څه ، د چا کارت ؟ ما وویل ، حزب اسلامي . ده وویل ، بد کوي ، دوی خو ماته ویلي وو ، چې ته شعله یي یې ، نږدې مو ستا د اعدام امر صادر کړی وو .

کله چې مې ښاغلي بشرمل ته د معصومیت او بې ګناهۍ کړاوونو او بندي خانې کیسه کوله ، سګرټ یې څښه ، له سترګو یې اوښکې راتوی شوې ، غمجن ښکارېده ، پوه نه شوم ، چې د سګرټو لوګي او که زما غمجنې کیسې یې اوښکې توی کړې ،خو په اغلب ګمان ، زما کیسې ژړولی وو ، ځکه وروسته ما ښه وپېژاند .

داکتر خدایداد بشرمل راځنې وپوښتل ، چې همکار سپی خو نه شته ، اوس په غازي اباد فارم کې څوک آمر دی ؟ ما ورته وویل شمشیرخان . همکار دا وخت په یوه بمي برید کې ټپي او د درملنې لپاره روسیې ته استول شوی وو . داکتر بشرمل ، زما د ګمارنې په موخه ، یو ځانګړی لیک شمشیرخان ته ولیکه او هلته یې په پښتو ژبه داسې کښلي وو ( ملګری شمشیرخان ! د لیک دروړونکی در معرفي شو، په راتلونکي کې یې هېڅوک ځورولی

نه شي ، که چا وغوروه ، نو له دې ولايت به تبديل کړای شي ).
زما په عريضه يې د کانال رياست ته داسې وليکل ( ملګری اخلاص ! نومړی تاسې ته در معرفي شو ، چې په غازي فارم کې په يو ښه پوست کې وګمارل شي او همکار هم وپوهول شي چې د نومړي د سرګردانۍ لامل نه شي ). کله چې دا رسمي احکام ، زما يو نږدې ملګري ( انجينر مجيد ) چې د کامې ولسوالۍ اوسېدونکی او د (پرچم) اړخ غړی وو وليدل ، حيران شو چې دا خو ښاغلي بشرمل همکار ستا په موضوع کې رسمي تورن کړی دی . په دې سره بيا په دنده وګمارل شوم او بيا مې د هېواد د کرنې ، ونو او باغونو خدمت پيل کړ .

پای

**د لیکوال لنډه پېژندنه :**



ښاغلی شاه محمود کډوال د ګل حمید خان زوی ، آر ټاټوبی یې د لغمان ولایت د کټل کلی دی . پر ۱۳۵۹لمریزکال د ننګرهار ولایت د بټي کوټ ولسوالۍ د غازي اباد په فارم کې زېږېدلی دی .

لومړنۍ زده کړې یې د غازي اباد په لېسه ، منځنۍ یې د نجم المدارس په عالی مدرسه او ثانوي هغه یې د هډې فارم په لېسه کې په ۱۳۷۵ لمریز کال کې بشپړې کړې دي .

کډوال په ۱۳۸۱ ل کې د کانکور ازموینې له لارې ، د کابل پوهنتون ، د ژبو او ادبیاتو پوهنځي ته بریالی شو ، هلته یې پښتو څانګه د زده کړې لپاره غوره کړه . لږ وخت وروسته یې ځان د ننګرهار پوهنتون د ادبیاتو پوهنځي پښتو څانګې ته تبدیل کړ او هلته یې خپله زده کړه پیل کړه . نوموړی د خپلې زده کړې په بهیر کې ، له پیله تر پایه ، په لومړۍ درجه کې وو او په همدې درجه پر ۱۳۸۵ لمریز کال ، له هغې څانګې او پوهنتونه فارغ شو .

له فراغت وروسته ، په ۱۳۸۵ لمریز کال ، په بغلان پوهنتون کې د کادري غړي په توګه وګمارل شو او هلته د ښوونې اوروزنې

پوهنځي په پښتو څانګه کې په ښوونه بوخت شو . د دې تر

څنګ په ۱۳۸٦ لمریز کې ، د ښوونې او روزنې پوهنځي

مرستیال او په ۸۷ - ۱۳۸۸ کلونو کې ، د پوهنتون اداري

مرستیال وو خو وروسته یې ځان له اداري دندو ګوښه او په

ښوونه بوخت شو.

کډوال ددې ترخنګ ، چې د پښتو ژبې او ادب یو څانګوال

غړی دی ، په ژورنالیزم ، انګلیسي ژبه او کمپیوټر کې یې هم

لنډ مهالې زده کړې دي . کله نا کله یو نیم شعر او بېلابیلې

ټولنیزې لیکنې هم لیکي . د دري ترڅنګ په انګلیسي او اردو

ژبو هم پوهېږي . د دې اثر سربېره یې لاندې اثار چاپ شوي

دي :

۱ - سندریزې ساندې ( شعري ټولګه ) .

۲ - ګړنې ، څرګندنې او نومونې ( اصطلاحات او محاورې ) .

۳ - د عبدالحمید مومند د شاعرۍ ترنګونه ، څېړنیز اثر .

درنښت

انجینر ایمل حمید